# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| علمی | Scientific |
|---|---|



انجینر داؤد اخک

۰۳ می ۲۰۱۹

## آیا تاریخ عِلم دی؟

ټولو تاریخ پوهانو په ګډه سره دا منلې ده چې تاریخ په تیره زمانه کې ټولنیزې پیښې، موضوعات، اتفاقات، جوړښتونه او د انسانانو کردار تر څیړنې لاندې نیسي او کوښښ کوي چې د مؤثقو او مطمئینو سرچینو پر بنسټ ئې موږ ته راوپیژني. خو د لغت او تعریف په هکله ئې اندونه بیل دي او په بیلو ژبو کې په بیل بیل ډول استعمالیږي. عربي ادبپوه (اصمعي) د تاریخ کلیمه عربي بولي او تائیدوي چې تاریخ د (الارخ) د کلیمې څخه اخیستل سویدی مګر(فرانتس روزنتال) المانی شرق پیژندونکی او تاریخ پوه وایي:

(امکان ددې ډیر سته چې تاریخ دې د اکدي ژبې د «ارخو» یا هم د عبري ژبې د «یرخ» څخه اخیستل سوی وي چې دواړه د میاشت یا سپوږمی په معنا دي. روزنتال اضافه کوي چې «ارخو» د عربي ژبې د جنوبي یا حبشي حوزې په متنونو کې د قضاوت، حکم او په ځینو ځایو کې د کال «سنه» په مفهوم کارول سویدی).

تاریخ په اروپایي ژبو کې ( History ) د یوناني hístōr څخه اخیستل سویدی چې د تیرو پیښو او واقیعتونو د نقل یا د ارزښته شیانو د لټون په معنا دی خو د یونان د تاریخ پلار (هرودتس یا هرودت) د تیر ژوند د مطالعې او څیړلو په مفهوم معنا کړیدی.

د تاریخ مفهوم په زات کې یو ګونګ مفهوم دی چې په استعمال کې ئې ابهام پروت دی یعني په یوه کلیمه یا نوم کې دوه مفهومه (د تاریخ علم) او (د تاریخ موضوع) پراته دي. کله چې موږ د تاریخ کلیمه پکار وړو باید پوه سو چې زموږ منظور د «تاریخ» څخه څه دی د تاریخ علم دی او که د تاریخ موضوع ده. ځکه چې دا دواړه د تاریخ بیلې برخې او جلا مفاهیم دي.

مایکل استنفورد امریکایي تاریخ پوه هم نوموړي دوه مفاهیمه سره جلا کړي او په هکله ئې داسې لیکي:

(په پیل کې باید روښانه کړو چې تاریخ یو شئ ندی بلکه څو شیانه دي. لومړی تاریخ هغه تاریخ دی چې د مختلفو پیښو څخه رامنځته ته کیږي یعني د «تاریخ موضوع» ده. دوهم تاریخ هغه تصویر دی چې د پیښو څخه ئې یخپل ذهن کې جوړو یعني د «تاریخ علم». مایکل اضافه کوي چې لومړی تاریخ د هغه عیني پیښو او موقعیتو ټولګه ده چې موږ غواړو باور په وکړو چې په یوه معین مکان او زمان کې واقع سوي **وي**، د پیژندلو قابل وي او شتون ولري.

دوهم تاریخ عبارت دی د پیښو ذخیره کول، د هغوی یادول، بیا راپورته کول، په هغوی باندې ځان پوهول او بالاخره د هغوی تأثر زموږ د اوسني برخورد پر طرز باندې د اوسنیو پیښو او موقعیتو په هکله).

ډاکتر (مسعود صادقي) د امام خميني د پوهنتون استاد هم پدې هکله وايي چي: «په انګلستان، فرانسه، او المان کي د تاريخ اصطلاح دوې متفاوتي معناوې لري او توپير ئې دادی چي د علم موضوع د علم سره فرق کوي. صادقي مخته ځي او وايي چي تاريخ د علم موضوع ده».

ډاکتر شريعتي ايرانی هم د صادقی په شان پدې هکله داسي ليکي: «د تاريخ په لفظ کي تناقض موجود دی هم په فارسي او عربي ژبو کي او هم په اروپايي ژبو کي چي په دواړو ښکارهنګو (کلتورو) کي دوه مفهومه په يوه کليمه کي کاريږي. شريعتي اضافه کوي چي يو (علم) دی بل د (علم موضوع) ده او مثال راوړي چي ټولنه موضوع ده او ټولنپيژندنه علم دی...

ايرانی استاد مطهري تاريخ پر درو برخو ويشي:

۱ ــ نقلي تاريخ: د انسانانو د تيرو حالاتو، اوضاع او واقيعاتو علم دی د اوسنيو حالاتو او واقيعاتو په مقابل کي. مطهري اضافه کوي چي نقلي تاريخ جزئي دی يعني د شخصي او فردي امورو علم دی نه د عامو قواعدو او ظوابطو. بل داچي نقلي تاريخ نقلي علم دی نه عقلي. دريم د تيرو يا انجام سوو کارو او پيښو علم دی نه د کيدونکو پيښو. څلرم داچي په تيره زمانه پوري اړه لري نه په حال پوري.

۲ ــ د علمي تاريخ تعريف او ځانګړتياوې: علمي تاريخ پر تير ژوند باندي د حاکمو سنتو، او قاعدو علم دی چي د تيرو پيښو او واقيعاتو د مطالعي، تحليل او څيړني څخه پلاس راځي.

۳ ــ د تاريخ د فلسفي تعريف او ځانګړتياوې: د تاريخ فلسفه په بيلو ټولنيزو پړاونو کي د تحول، پرمختګ او پر تحول او پر مختګ باندي د حاکمو قوانينو د پيژندلو علم دی. د تاريخ فلسفه د علمي تاريخ په شان کلي ده نه جزئي، عقلي ده نه نقلي اما د تاريخ د علم خلاف په ټولنه کي د «کيدو» يا واقيع کيدو علم دی نه د شتون «بودن» علم. همداسي د شتون «بودن» مفهوم دا ندی چي په تير وخت پوري تړاو ولري بلکه علمي جريان دی چي د تير څخه پيل د حال څخه تيريږي او تر راتلونکي پوري دوام لري چي «زمان» ئې ظرف ندی بلکه د هغه د ابعادو څخه يو بُعد دی).

د شهيد بهيشتی په پوهنتون کي د تاريخ استاد ډاکتر «رضا شعباني» تاريخ داسي تعريفوي:

(تاريخ د تيرو پيښو د څيړلو علم دی چي پر بنسټ ئې انسان دا امکان پيدا کوي چي ووايي تاريخي پيښي په يوه زماني تداوم کي را منځته سويدي).

جوزوف شلينګ پدې هکله وايي چي: (تاريخ بايد د درو ليدلورو څخه مطالعه او تر څيړني لاندي ونيول سي.

- لومړی ليدلوری د واقعي سره انطباق.

- دوهم ليدلوری د ايديا سره انطباق.

- دريم ليدلوری د نوموړو ليدلورو تلفيق او همږغي.

لومړی ليدلوری عيني پيښو ته توجه لري. دوهم ليدلوری ذهن او فاعل ته او دريم ليدلوری د دواړو ليدلورو وحدت او ترکيب دی چي شلينګ د «تاريخ هنر» بللی دی).

ډاکتر ج. ب. بيوري اعلان وکړ چي: (تاريخ يو علم دی، نه ډير او نه لږ).

المانی ګويته وايي چي: (تاريخ بايد په موږ کي شور او شوق راوپاروي).

تاريخ هغه افسانه ده چي په خلګو کي منل سوې وي، که غواړئ چي راتلونکی ووينی پر تيرو کره کتنه وکړئ. ناپليون.

دان برون Dan Brown امريکايي ليکوال پخپل کتاب ( The DA VINCI CODE ) کي داسي ليکي:

(فاتحان تاريخ ليکي).

جرمنی فيلسوف هيګل وايي: (تاريخ دعقل متعالی دی او فقط د ذهنی پر مختګ سره تړلی دی بيا اضافه کوي چي:

تاريخ مدني ټولنه ده چي په روح او د روح په تکامل پوري اړه لري او دولت د روح جسد دی، تاريخ د انسان د ازادۍ ښکارندوی دی.

بل ځای وايي: په هره فلسفه کي چي تاريخي ګزارش نه وي هغه فلسفه نده).

کارل مارکس د تاریخ په هکله باور درلود چي: (تاریخ د تیر، حال او راتلونکي د پوهیدو لپاره بنسټیز وسایل دي او ټولني ته د شکل ورکولو تئوري ده. تاریخ په هر پړاؤ کي د مادي شرایطو پر بنسټ د ټولنیزو تحولاتو پوهه ده. بالاخره وایي چي د ټولنو تاریخ د طبقاتي مبارزې تاریخ دی او په اوسنی نړۍ کي دوې طبقي شتون لري چي پانګه وال او کارګر دي. مارکس اضافه کوي چي د نوموړو دوو طبقو کشمکش تاریخ جوړوي او د انګلز سره یو ځای ټینګار کوي چي: خلګ د تاریخ جوړونکي دي).

## د اڅک فلسفه د تاریخ په هکله

یو داچي د کارل مارکس او فریدریک انګلز په شان ډیر عالمان او تاریخ پوهان پدې باور وه یا پدې باور دي چي:

«خلګ د تاریخ جوړونکي دي» او بل داچي اوس هم ډیر خلګ او د نظر خاوندان سته چي تاریخ ته د یوه قاضي، یا یوه مقام په حیث قائله دي او وایي چي: تاریخ قضاوت کوي، تاریخ ته ئي پریږده، تاریخ شاهد دی...

زه د ټولو ښاغلو عالمانو او د نظر خاوندانو څخه په بخښني سره پدې اند یم چي خلګ نه بلکه د نړۍ زور واکي او استعمارګران دي چي تاریخ جوړوي او په نړۍ کي ئي د خپل نفوذ لپاره د یوې وسیلي په توګه استعمالوي. د نړۍ ښکیلاک ګر دي چي تاریخ ئي د یوې مرموزي وسیلي په حیث د خپل واک او ایدیالوژۍ د خپرولو لپاره انتخاب کړیدی او د تاریخي پیښو په جعل او تحریف سره د ملتونو افکار او ذهنونه منحریفوي څو د خپلو ګټو لپاره ئي اماده کړي.

زما په باور تاریخ یوه تیره شیبه ده، زړه واقعه ده، او د نن لپاره یوه مجهوله او نامعلومه قضیه ده، د سبا لپاره د ناندریو او اختلافاتو راپارونکي لانجه ده او د بیلو ښکارهنګونو(کلتورونو)، قومونو حتا حکومتونو لپاره یوه غیر ثابته حادثه ده چي هر حکومت، سازمان یا تاریخ لیکونکی ئي د خپل لیدلوري او امکاناتو په کچه تحلیلوي او موږ ته ئي راپیژني. بیله شکه به تاریخ لیکونکي یا په تاریخي پیښو کي شکیل اړخونه او د هغوی پلویان تر ممکنه حده د پیښي په څیړلو او معرفي کولو کي خپله عقیده او علاقه هم ځایوي چي په پایله کي ئي تاریخ خپله اصلي او واقعي څیره د لاسه ورکوي.

د ساري په ډول که موږ او تاسو خپل د سترګو لیدلي تاریخي پیښي په نړۍ او افغانستان کي په تاریخونو کي مطالعه کړو وینو چي دوه حکومته، دوه سازمانه حتا دوه تاریخ لیکونکي به د تیرو تاریخي پیښو په هکله واحد نظر ونلري، ملامت او سلامت به ئي بیل وي. لکه په افغانستان کي د ۱۳۵۷ هش کال د ثور د اومي نیټي څخه تر نن ورځي پوري چي د تاریخي پیښو په هکله د تاریخ قضاوت بیل دي او بیلو تاریخ لیکونکو په بیلو ډولو سره تحلیل کړي او لیکلي دي. ځکه نو زه تاریخ ته د علم حیثیت نه ورکوم.په همدغه وجه ما تر خپله وسه کوښښ وکړ چي د نوموړو ښاغلو تاریخ پوهانو په لیکنو کي د علم تعریف پیدا کړم څو وروسته قضاوت وکړو چي:  تاریخ علم دی؟

بالاخره ما په همدغه تاریخي باندار کي فقط د انګلیسي فیلسوف او مؤریخ (John Dalberg Acton ) جان دالبرګ اکتون تعریف پیدا کړ چي علم ئي داسي تعریف کړیدی: «علم د مشابه واقیعاتو راټولول دي پداسي ډول چي د دوۍ د راټولیدو څخه په قانون او مبدأ کي یو ډول ځانګړې همږغي او یووالی راپیدا سي څو موږ وکړای سو چي په یقیني او قطعي ډول همداسي نور مشابه واقیعات په ځانګړو شرایطو او ظروفو کي پیش بیني کړو». د جان تعریف هم د تاریخ علمیت نفي کوي ځکه چي جان د ټولنیزو پیښو په راټولیدو او تحلیل کي یوالی، یقین، او قانون اړین بولي چي په تاریخ کي تر اوسه ندي لیدل سوي.

که څه هم Positivism  پوزیتیویسم (اثبات پلوي) کوښښ کړیدی چي تاریخ یو تجربه یي علم ثابت کړي خو د نورو علومو په شان ئي هر اړخیزه هوکړه نده حاصله کړې. ځکه نو د موضوع د ښه روښانتیا لپاره باید لومړی علم تعریف کړو او بیا د تاریخ دعلمیت په هکله خپل قضاوت وکړو. زه علم داسي درپیژنم:

«د ذهن او شي تر منځ یا د ذهن او مفهوم تر منځ ثابت، منظم او عیني شناخت او ارتباط ته علم وایي».

داچي موږ د هیڅ تاریخي پیښي په هکله هراړخیزه، مثل سوي عیني شواهد او اسناد نلرو ځکه نو د تاریخي پیښو په هکله به زموږ پیژندنه او اړیکي هم یو شان، ثابت او منظم نه وي لکه ۲+۲ = ۴ په هکله چي د ټولو انسانانو نظر او عمل یو دی. بناءً کله چي د یوه شي یا مفهوم په هکله اړیکه او پیژندنه ثابته، منظمه، تلپاتي او تجربه سوې نه وي هغه علم ندی.

بل داچي تاريخ قوانين نه توليدوي اما علم ټول هغه طبيعي او ټولنيز قوانين بشريت ته په ډاګه کوي کوم چي دانسان څخه پټ دي. ځکه نو زه دعوا لرم چي تاريخ علم نه بلکه يوه فلسفه ده او داسي ئې تعريفوم:

«تاريخ د تيرانساني تفکر او تيرو ټولنيزو او طبيعي پيښو حرکت او اتصال دی د اوسني روال سره».

پدې معنا: که چيري يوه ټولنيزه يا طبيعي پيښه، يوه عقيده، يو فکري، علمي يا سياسي مکتب د اوسني تاريخي روند يا ارشيف سره وصل نه وي نو طبيعي ده چي ننني انسان د هغه په هکله فکر نسي کولای او هغه پيښه، مکتب يا حرکت به د خلګو هير وي او په اړه به ئي هيڅ نه پوهيږي که څه هم يوه پيښه وي. لکه د خط د ايجاد مخکی چي موږ ته څه نه رارسيدل او نن ورځ د تاريخ برخه نده.

اما د تاريخي پيښو د حقيقت او لاملونو موندل د تاريخ د فلسفې دنده ده چي په راتلونکي کښي به بانډار پر وکړو.

په درنښت

۲ ــ ۵ - ۲۰۱۹

**سرچيني**

- WHAT IS HISTORY د ( ايډوارډ هاليت کار) ليکنه د (حسن کامشاد) فارسي ژباړه.
- WIKIPEDIA
مانيفست حزب کمونيست. د (مارکس او انګلز) ليکنه د (محمد پورهرمزان) فارسي ژباړه.
- بخش فلسفه و انديشه. پرتال فرهنگی اجتماعی پرشين پرشيا.
- مجله حوزه
- ټول افغان سايت